# خبر پاڼه

## د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه د افغانستان له ملي شورا غوښتنه کوی چې د کانونو قانون تعدیل کړي ترڅو د مسؤلیت منلو او حساب ورکولو کچه لوړه شي. په همدې توګه نوموړې کمیټه د کانونو د عوایدو د څرنګوالي د څارلو په اړه څنې سپارښتنې صادروي

**د ۱۳۹۲ کال د تلي د میاشتې ۲۹مه نیټه، کابل، افغانستان** - د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه د افغانستان د ملي شورا غوښتنه کوی چې د کانونو په قانون کې دې څنې تعدیلونه او بدلونونه رامنځته کړی ترڅو د کانونو سکتور د اداری فساد پر وړاندې په ښه توګه خوندي و ساتل شي. د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکې ګډې کمیټې په دې اړه ملي شورا ته یو لیک استولی دی او د قانون جوړونکو څخه یی د دې غوښتنه کړې تر څو داسې احکام نور هم پیاوړي او غښتلی کړي چې د روڼتیا او حساب ورکولو اړونده چارې لا ډېر ښه والی و مومی او په دې سر بیره یی له هغوی څخه غوښتي چې د نوموړي قانون د تصوییبولو چارې دې ګړندۍ کړي.
د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکې ګډې کمیټې په دې وروستیو کې د هغه قانوني او مقرراتي چوکاټ ارزول په لاره اچولي دي چې د کانونو د قانون په مسوده کې یی وړاندوینه شوې ده. د قانون په مسوده کې د پانګه اچونکو د راماتولو او په همدې توګه د روڼتیا او حساب ورکولو د کچې د لوړولو په برخو کې ډېر مهم پرمختګونه تر سترګو کیږي. خو سره له دې ډېر نور څه باید په دې برخه کې تر سره شي تر څو عواید خوندی او افغانستان وکولی شي له خپلو طبیعي زېرمو څخه ګټه تر لاسه کړي. د بیلګې په توګه نوموړی قانون د حق الامتیاز د ونډې یا برخې د ټاکلو د رژیم په اړه ډېر لږ تفصیلات برابروي، د روڼتیا او حساب ورکولو چارې باید لا نورې روښانه او و غزول شي او په همدې توګه په اړونده سیمو کې د ځایی ټولنو ونډه باید پراخه شي.

سربیره پردی، د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکې ګډې کمیټې د ګنو شریکانو ډلې ته یوه سپارښتنه صادره کړې چې د هغو له لارې په استخراجي صنایعو کې د روڼتیا د نوښت د معیارونو له غوښتنو سره د افغانستان د سمون او عیارېدو اړونده چارې څارل کیږي ترڅو په هیواد کې د کانونو له درکه د عوایدو د اړونده چارو د څارلو کار ښه والی و مومي. دا کار باید د عوایدو د کچې په ډېرېدو سره د افغانستان د استخراجی صنعت د روڼتیا نوښت ته د رپوټ ورکولو له لارې تر سره شي.

ښاغلي محمد یاسین عثماني، د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکې ګډې کمیټې (*MEC*) اوسني رئیس په دې اړه داسې وایی:

> د کانونو په سکتور کې د اداري فساد مخنیوی د افغانستان د اقتصاد لپاره ډېر اړین دی. له دې امله د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه چې د یوه خپلواک غړ په توګه په افغانستان کې د داري فساد سره د مبارزې په برخه کې ملي او نړیوالې هڅې څاري، د کانونو د قانون مسوده یی ارزولې او له ملي شورا غوښتنه کوي چې ډاډ تر لاسه کړي ترڅو په دې قانون کې داسې احکام او مواد موجود وي چې د کانونو سکتور د اداري فساد له شر نه خوندي و ساتي.

د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکې ګډې کمیټې په دې اړه لا دمخه د خپلو شپږو سپارښتنو او د کانونو او پطرولیم د وزارت او د استخراجي سکتور په اړه د ولسمشر د ۴۵ ګڼې فرمان د دوو مادو د پلي کیدو د څارلو کار پیل کړی دی. په نوموړو مادو کې د کړنلارو د طرحې، د څارلو د وړتیا د کچې د لوړولو، په موجودو کړنلارو یا طرزالعملونو کې د اداري فساد سره د مبارزې د اړونده میکانیزمونو د توحیدولو او د کانونو په وزارت کې د روڼتیا د کچې د لوړولو په ګډون یو لړ موضوعات نغښتي دي. د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه به په دې اړه خپل کار ته دوام ورکړي چې د نوي قانون د تصویب او په ټولیزه توګه د استخراجی صنعت په کار کې رامنځ ته شوي پرمختګونه په ځیر سره و څاري.

**د لا ډېرو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکې ګډې کمیټې سره په لاندې پتو اړیکې ټینګې کړئ:** www.mec.af contact@mec.af +93 (0) 798 750 527
**د ښکته کولو لپاره د کمیټې اړونده انځورونه په لاندې وېب پاڼه کې موجود دي:** www.flickr.com/photos/mec123/